PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۲۱۴

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

دوولسم کال - دویمه دوره، ۱۲۱۴ مه گڼه، پر له پسې ۲۲۸۸ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د سلواغې ۱۱ مه - د سې شنبې ورځ، د ۱۴۳۳ هـ ق ربیع الاول ۷ مه د ۲۰۱۲ د جنوری ۳۱ مه

افغان حکومت او طالبانو په سعودي کې د خبرو پلان تایید کړ

پاکستاني او لوېدیځو رسنیو د چارواکو په قول وویل چې د افغانستان او پاکستان حکومتونه هڅه کوي چې په قطر کې د امریکا او طالبانو له خبرو جلا په سعودي عربستان کې له طالبانو سره خبرې وکړي. تر دې مخکې ویل شوي وو چې طالبان به لومړی په قطر کې یو سیاسي دفتر پرانیزي. دوی په قطر کې له امریکایانو سره څو پراوه خبرې کړې دي.

وړمه ورځ بي بي سي د بې نومو افغان مقاماتو په قول راپور ورکړ چې طالبانو او د افغانستان حکومت موافقه کړې ۳مـــخ

کابل او اسلام اباد ته به د حنا سفر څه پایلې ولري؟



د پاکستان د بهرنیو چارو وزیره حنا رباني کهر په داسې حال کې کابل ته روانه ده، چې له تیرې څه مودې راهیسې د دواړو هیوادونو ترمنځ په سیاسي اړیکو کې رامنځ ته شوې خلا لا هم پر خپل ځای پاتې ده، خو ځینې پاکستاني کارپوهان په دې باور دي، چې په قطر کې د امریکا د متحدو ایالاتو او وسلوالو طالبانو ترمنځ پیلیدونکې خبرې د دې باعث شوې څو کابل او اسلام اباد په سمدستي ډول په خپلو کې سره نژدې شي.

په پینبور کې د انګلیسي ژبې دې نیوز ورځپاڼې مدیر رحیم الله یوسفزی، چې پر اړوندو چارو ژور نظر لري وایي، د افغانستان و پاکستان دولتونه په دې خبره ناخوښي دي، چې ولې د قطر په پروسه کې له پامه غورځول شوي او همدا وجه ده چې اسلام اباد په سمدستي توګه له کابل سره په لوړه کچه دا اړیکو نیولو پریکړه کړې: "افغانستان و پاکستان له دې خبرو څخه لرې ساتل شوي، خو دواړه لوري، چې د قضیې اصلي لوري دي هڅه کوي تر څو له اصلي اجنډا ځان خبر کړي او په هر ډول چې وي په دې پروسه کې ځانونه شامل کړي.

تر کومې چې ماته معلومه ده دا خبرې خو د امریکا او طالبانو ترمنځ نیغ په نیغه پیل ۳مـــخ

ولسي جرګې له یو شمیر وزیرانو څخه د باور رایې د اخیستلو ګواښ وکړ

د ولسي جرګې یو شمیر غړیو د هغو وزیرانو د استیضاح غوښتنه وکړه، چې تېر کال یې د خپلې پراختیایي بودیجې نیمایي هم نه ده لګولې.

دوی د سلواغې پر لسمه د دې جرګې په عمومي غونډه کې وروسته له هغه دغه څرګندونې وکړې، چې د مالي او بودیجې کمېسیون له لوري د ۱۳۸۹ کال د بودیجې قطعیه حساب جرګې ته وړاندې شو.

په ولسي جرګه کې د پروان استازي او د مالي او بودیجې کمېسیون غړي صدیق احمد عثماني وویل، چې تېر کال په ټولیزه توګه ۴۰ سلنه پراختیایي او ۹۵ سلنه عادي بودیجه لګول شوې ده.

عثماني ونه ویل، چې کومو وزارتونو څومره بودیجه لګولې او زیاته یې کړه، چې د چهارشنبې ورځې عمومي غونډې ته به په دې اړه معلومات ورکړي.

ده دا هم وویل، چې د مالیې وزارت په خپل سر د قانون خلاف په بودیجه کې بدلونونه راوستي دي.

هغه وایي، چې د ۱۳۸۹ کال لپاره عادي او پراختیایي بودیجه د ولسي جرګې له لوري ۲۱۵ میلیارده افغانی تصویب شوې وه، خو د مالیې وزارت د بودیجې په قطعیه حساب کې بودیجه ۲۳۱ میلیارده افغانی ښودل شوې ده.

ده زیاته کړه، چې حکومت د ۱۳۸۹ کال بودیجې د قطعیه حساب راپور هم پر خپل وخت ملي شورا ته نه دی استولی او دغه کار یې هم له اساسي قانون سره په ټکر کې دی.

د اساسي قانون د ۹۸ مې مادې له مخې، د تېر مالي کال د بودیجې قطعیه حساب د راتلونکي کال د شپږو میاشتو په اوږدو کې د قانون له حکمونو سره سم ملي شورا ته وړاندې کېږي.

دغه راز د دې مادې له مخې، حکومت د مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې د راتلونکي کال ۳مـــخ



با امضای پیمان های راهبردی، صلح توأم با ترقی تضمین می گردد!

۲

کېدای شي تر وخت مخکې د ځواکونو ایستل ناټو له سختو ننګونو سره مخ کړي

د فرانسې ولسمشر نیکولاس سرکوزي په افغانستان کې د څلورو فرانسوي عسکرو د وژل کېدو له پېښې وروسته په پاریس کې له افغان ولسمشر حامد کرزي سره په خبرو کې غوښتنه وکړه، چې د ناټو ترقوماندی لاندې ټول ځواکونه دې د ۲۰۱۴ کال پرځای د ۲۰۱۳ کال تر پایه امنیتي مسوولیتونه افغان امنیتي ځواکونو ته وسپاري او له دې هېواده دې ووځي.

ښاغلي سارکوزي وویل، له افغانستانه به د خپلو عسکرو ایستل ګړندي کړي او د روان کال تر پایه به زر عسکر له دې هېواده وباسي، مخکې په دې موده کې د شپږ سوو عسکرو په ایستلو توافق شوی و.

هغه همدارازوویل، چې فرانسه به د مارچ په میاشت کې د کاپیسا ولایت چارچېرې چې د جنوري پر شلمه یوه افغان عسکر په ډزو سره څلور فرانسوي عسکر ووژل، افغان امنیتي ځواکونو ته وسپاري. فرانسه په اوس وخت کې په افغانستان کې شاوخوا ۳۶۰۰ عسکر لري.

فرانسه به له افغانستانه د ۲۰۱۳ کال تر پایه د ټولو بهرنیو ځواکونو د ایستلو وړاندیز راتلونکې اونۍ د ناټو د دفاع وزیرانو غونډې ته چې په بروکسل کې جوړیږي وړاندې کړي.

یوشمېر افغان کارپوهان په دې باور دي، چې د سرکوزي د دغه اقدام ترشا سیاسي انګیزې پرتې دي او غواړي، چې د روان کال د جمهوري ریاست له انتخاباتو مخکې د خلکو ملاتړ ترلاسه کړي.



له افغانستانه د فرانسي ځواکونو ایستل:

د اسوشیټډ پرېس خبري اژانس د راپور له مخې چې نور هېوادونه د فرانسې دغه اقدام له افغانستانه د خپلو ځواکونو د ګړندي ایستلو لپاره یو شین څراغ وبولي نو دا به هغه ستراتیژي له پېچلتیاوو سره مخ کړي، چې له دې هېواده په هماهنګ ډول د ناټو ځواکونو د ایستلو لپاره جوړه شوې ده.

د ناټو غړیو هیوادونو په ۲۰۱۰ کال کې د لیزبن په غونډه کې موافقه کړې وه، چې تر ۲۰۱۴ کال پورې دې د افغانستان امنیتي ځواکونه ته د امنیتي مسولیتونو انتقال بشپړ او ټول بهرني محارب ځواکونه دې له دې هیواده ووځي.

ویل کېږي، د فرانسې دغه اقدام په د هغو هیوادونو پر حکومتونو، چې ځواکونه یې په افغانستان کې د امریکا په مشري ایتلاف کې د القاعده او طالبانو په وړاندې جګړه کې ۳مـــخ

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

سفر حنا ربانی به کابل، تلاشی مشترک از حاشیه رفتن در مذاکرات صلح

انتظار می رود، امروز کابل برای نخستین بار میزبان وزیرخارجهٔ زن پاکستان باشد. این زن که حنا کهر ربانی نام دارد، در جریان امروز وارد کابل می شود. این نخستین سفر ربانی بعد از به عهده گرفتن این سمت به کابل می باشد. باید گفت، سطح روابط میان اسلام آباد و کابل در سال‌های اخیر به حد پایینی رسیده است؛ به طوری که افغانستان در سال‌های گذشته بارها پاکستان را به حمایت از طالبان و سایر گروه‌های مخالف متهم کرده است.

گفته می شود، وزیر خارجهٔ پاکستان در این سفر به شمول رییس جمهور کرزی با زلمی رسول وزیرامور خارجهٔ و جمعی از مقام های دیگر افغان ملاقات هایی خواهد داشت. مقام های افغان می گویند، موضوع اصلی گفتگوهای مقام های افغان با مقام یادشدهٔ پاکستانی را بحث و گفتگوها در مورد مبارزهٔ با تروریزم و اهمیت حمایت پاکستان از مذاکرات صلح در افغانستان تشکیل می دهد. همچنان مقام های افغان به این باور اند، این سفر نشان‌دهندهٔ تمایل دو کشور به آغاز فصلی جدیدی از روابط میان اسلام آباد و کابل است.

مقام های افغان به این باور رسیده اند که پاکستان نقش کلیدی یی در فرآیند صلح افغانستان برعهده دارد و کابل به تلاش‌های پاکستان برای پیشبرد مذاکرات صلح نیازمند است.

اما امریکا اکنون مذاکرات مستقیم اش را با طالبان که زمانی به ابزار امتیازگیری اسلام آباد تبدیل شده بود، در کشور قطر آغاز کرده است. به باور شماری از آگاهان سیاسی، بنابر عدم همکاری صادقانهٔ پاکستان و ناکارآمدی دولت کابل در تلاش های صلح در افغانستان، امریکا نیز نخواسته تا این طرف ها در گفتگوهای صلح که در حال حاضر در قطر ادامه دارند، دخیل باشد.

از سوی دیگر، روابط امریکا و پاکستان هم دچار تنش و چالش جدی شده و همچنان فضای بی اعتمادی بین افغانستان و امریکا به دلیل مذاکرات مخفیانه بین واشنگتن و طالبان به وجود آمده است و مجموع این مسایل سبب شده که مقام های تلاش هایی را برای بهبود روابط با یکدیگر آغاز کنند.

در همین حال، در تفاهم با عربستان، یک موضعگیری تقریباً همسو از سوی افغانستان و پاکستان در برابر امریکا به دلیل مذاکرات مخفیانه با طالبان صورت گرفته است.

پاکستان تصور می کند که در رابطه با این مذاکرات در انزوا قرار گرفته و دولت افغانستان هم فکر می کند که به صورت شفاف در جریان مذاکرات قرار ندارد و دو کشور احساس می کنند که ممکن است، مسایلی در این مذاکرات مطرح شود که به نفع آنها نباشد و به نظر می رسد، سفر امروز حنا ربانی کهر وزیر خارجه پاکستان به افغانستان بی ارتباط با این قضایا نباشد.

در گذشته هم شاهد رفت و آمدهای مقام های دو کشور بودیم، اما بهبود خاصی در روابط مشاهده نشد؛ زیرا حضور مخالفان مسلح دولت کابل در خاک پاکستان از چالش های اصلی به شمار می آید؛ بنابر این به نظر نمی رسد، در اصل روابط دوجانبه بهبودی حاصل شود و دیدارها صرفاً در جهت تلاشی مشترک برای عقب نماندن از مذاکرات امریکا با مخالفان و تشکیل مثلث صلح افغانستان و پاکستان با عربستان است. در حال حاضر شرایط به گونه یی در حال رقم خوردن است که هر دو کشور فکر می کنند، در حال از دست دادن منافع مشترکی هستند و تامین منافع مشترک هم تنها با موضعگیری های سیاسی مشترک ممکن است.

دولت های افغانستان و پاکستان فکر می کنند که امریکا از گروه های مسلح مخالف به عنوان ابزار و اهرم فشار علیه آن ها استفاده می کند، از اینرو تلاش می کنند که با اشتراک دیدگاه ها برخی فرصت ها را از امریکا بگیرند و نگذارند که امریکا از مخالفان مسلح علیه آنها استفاده کنند .

اگرچه کابل و اسلام آباد سعی می کنند، با دریافت امتیازاتی روابط خود را بهبود ببخشند، اما با توجه به شرایط موجود بعید به نظر می رسد که شاهد بهبود روابط در آیندهٔ نزدیک باشیم.

با امضای پیمان های راهبردی، صلح توأم با ترقی تضمین می گردد!

نویسنده: احمد ذکی هوشمند



امضای پیمان ها و قرارداد های راهبردی (استراتژیک) با کشور های مقتدر جهان، از جمله ایتالیا، فرانسه و بریتانیا که به عنوان مثلث قدرت اروپایی شناخته می شوند، افغانستان را از انزوای بین المللی که دهه های قبل به آن مواجه بود، رهانیده و کشور های آزمند منطقه و به خصوص کشور های حریص همسایه را که منافع خویش را در نا امنی و بی ثباتی کشور ما جستجو می کنند، از این امر نا امید می سازد که بعد از سال ۲۰۱۴ میلادی که قوای ائتلاف بین المللی به رهبری ایالات متحده امریکا که تماماً نیروهای شان سرزمین ما را ترک می نمایند، فضا را برای همسایه های متخاصم تنگ تر ساخته و نمی توانند همچون چهار دههٔ اخیر که دیار ما به میدان نبرد آنها مبدل شده بود، به یکه تازی ها و ببر سواری های خویش ادامه دهند.

گفتنی است که پیمان راهبردی قبلاً نیز میان افغانستان و هندوستان به تاریخ ۱۳ میزان سال ۱۳۹۰ خورشیدی به امضا رسیده که مبنی بر همین قرار داد بود که کشور ما را با آن کشور دوست بیشتر از پیش با هم نزدیک ساخته و ملت های این دو کشور با فرهنگ غنی می توانند در عرصه های نظامی، اقتصادی، فرهنگی و اجتماعی تجربه های خویش را با هم شریک سازند. این پیمان به سربازان و افسران قوای مسلح افغانستان اجازه می دهد تا تحصیلات نظامی خویش را در کشور دوست به پایان رسانیده و مصدر خوب خدمت برای هموطنان خویش گردند. در ضمن کمک های بی شایبهٔ مردم هندوستان طی ده سال اخیر گواه این حقیقت است که ملت های با هم برادر می توانند زمینه های ترقی و پیشرفت خویش را در زمینه های مختلف مساعد ساخته و از آن بهره مند شوند.

طی سفر پنج روزهٔ رئیس جمهور کرزی که به کشور های اروپایی و به خصوص ایتالیا، فرانسه و بریتانیا داشت، گفته می شود که به منظور ایجاد و تأمین روابط با قدرت های بزرگ جهان که بتواند افغانستان را از شر نا امنی ها و بی ثباتی های سیاسی محفوظ داشته و جلو مداخلات کشور های همسایه را بگیرد، صورت گرفته و شهروندان افغان را مطمئن به این می سازد که جامعهٔ جهانی همچنان متعهد به همکاری های دوامدار بعد از خروج نیروهای ائتلاف بین المللی در سال ۲۰۱۴ می باشد تا هموطنان ما بتوانند در یک امنیت ذهنی و روانی به سر برده و از این امر در هراس نباشند که باز هم دوره های سیاه تکرار خواهند شد.

آنچه قابل یاد دهانی است، این می باشد که عقد این گونه پیمان ها و قرارداد های راهبردی میان افغانستان و کشور های مقتدر جهان در طول تاریخ گرانبهای کشور بی سابقه بوده و از این بعد که جهان کنونی ما به یک دهکدهٔ کوچک مبدل گردیده است، کشور ما نیز به دور از آن و مانند یک جزیرهٔ منزوی به سر نخواهند برد؛ بلکه با یک راهکار متناسب و معقول که همانا داشتن روابط نزدیک با کشور های جهان است، می تواند از سایهٔ جنگ و نا امنی که هر افغان را رنج می دهد به دور بوده و از محراق توجه جهانیان نیز پس از سال ۲۰۱۴ که ختم مأموریت قوای خارجی در کشور ما می باشد، بیرون نخواهند ماند و در ضمن افغانستان با امن به معنای یک جهان و منطقه با امن خواهند بود، زیرا امنیت اقتصادی و اجتماعی کشور های جهان با سرزمین ما تضمین خواهند شد.

طالبان د مولوي شفیع الله په بدل کې خپل بندیان غواړي

په کونړ کې یوه سیمه ییز طالب قوماندان د سولې د عالي شورا د تبنتول شوي غړي په بدل کې د خپلو بندیانو د خوشي کولو غوښتنه وکړه. د نورستان ولایت اوسېدونکی او د سولې د عالي شورا غړی مولوي شفیع الله دریځ ورځې مخکې د کونړ په اسمار ولسوالۍ کې د ناپېژاندو وسلوالو له خوا تبنتول شوی و.

که څه هم دوسلوالو طالبانو رسمي ویاند ذبیح الله مجاهد تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي، خو د کونړ په اسمار ولسوالۍ کې دوسلوالو طالبانو یوه سییمز قوماندان د مولوي شفیع الله د تبنتوونې مسوولیت پر غاړه اخیستی دی.

دغه طالب قوماندان، چې د نامه له اخیستو یې ډډه کړې، د سلواغې پر ۱۰مه ویلي، چې مولوي شفیع الله شفیع او د هغه ملګری دوی نیولي دي.

هغه زیاته کړه: ((څو پورې چې دولت په اسمار ولسوالۍ کې نیول شوي زمور طالب بندیان خوشې نه کړي، مولوي شفیع الله به له دوی سره وي.))

په کونړ ولایت کې د سولې د ولایتي دفتر مشر مولوي محمدهاشم منیب وایي، چې مولوي شفیع الله تېره اونۍ کونړ ته راغلی و او له ځایي چارواکو سره یې ولیدل.

نومورې وویل: ((مولوي شفیع زمور دفتر ته هم راغلی و، خو له مور سره یې خپل معلومات نه وو شریک کړي، چې د څه لپاره راغلی او له چا سره ګوري، کله چې تلو، نو له مور څخه یې کمره هم واخیسته او لاړ.))

د هغه په وینا، اوس یې له مولوي شفیع الله سره اړیکې پرې شوې او نه پوهېږي، چې هغه چېرته دی.

په ولسي جرګه کې د نورستان د خلکو استازی مولوي احمدالله موحد بیاد مولوي شفیع الله په تبنتولو کې د کونړ ولایتي اداره او امنیتي چارواکي پرې ګڼي او زیاتوي، چې د کونړ په چپه دره، مانیوګي او اسمار ولسوالیو کې د نورستان خلک نیول کېږي او ځایي اداره ترې بې خبره وي.

هغه پژواک ته وویل: ((مور نه پوهېږو، چې د کونړ اداره ولې د نورستان په اړه بې خبره ده؟ مولوي شفیع الله د اسمار ولسوالۍ په مربوطاتو کې نیول شوی او زمور د معلوماتو له مخې، له اسماره نیولې تر کامدېشه پورې، په همدغو سیمو کې یې د سولې په برخه کې له چا سره اړیکه نیولې وه.)) خو د کونړ امنیه قوماندان مل پاسوال عوض محمد نذیري بیا وایي، چې دوی کونړ ته د مولوي شفیع الله له راتګ څخه هېڅ خبر نه دي او نه یې د خپل راتګ په اړه دوی ته معلومات ورکړي وو.

کابل او اسلام اباد ته به د...

شوي او جرمني هم څه ناڅه رول په کې لري"

د ځینو راپورونو له مخې په قطر کې پیلیدونکې خبرې راسا د امریکا او وسلوالو طالبانو ترمنځ ګیدونکې دي، چې تر یو حده د جرمني هیواد هم په کې رول لري. پاکستان، چې د افغانستان په قضیه کې مهم اړخ بلل کیږي او تل یې په راتلونکي سیاسي بدلون کې د ډیرو امتیازاتو غوښتنه کړې څو ورځې وړاندې په پیښور کې څو تنه هغه ماڼي دیپلوماتان و نیول، چې د امنیتي ادارو په خبره ناقانونه فعالیتونه یې ترسره کول. یوسفزي د دې پوښتنې په ځواب کې، چې له وسلوالو طالبانو سره د سولې او روغې جوړې خبرې به د افغانستان و پاکستان له ګډون پرته څومره ګټورې وي، ازادي راډیو ته وویل: "ښکاره خبره ده، چې د کابل او اسلام اباد له ګډون پرته دا مسئله نشي حل کیدی ځکه چې اصلي مشکل په همدې دواړو هیوادونو کې پیښ دی، زما په نظر دوی ته به خاماخا ځه ناڅه کردار ورکړل شي"

د کابل او اسلام ترمنځ سیاسي اړیکې، چې پخوا یې هم چندان مزه نه وه په تیرو لسو کلونو کې مختلفو پړاوونو ته داخل شوي، که څه هم ویل کیږي، چې دواړه لوري د سړو اړیکو د رغونې هڅې کوي، خو له یوې خوا پاکستان په افغانستان کې د هندوستان حضور د ځان لپاره زیان ګڼي نو بل پلو افغانستان په پاکستان کې د خپلو وسلوالو مخالفینو پر فعال حضور خوابدی دی. د پیښور پوهنتون د نړیوالو اړیکو د خانګې رییس پروفیسر ډاکټر اعجاز خټک د همدې خبرو په تناظر کې وایي، اوس د دې وخت رارسیدلی، چې کابل او اسلام اباد زړې ګیلې او نا ندرې شاته پریږدي او د خپل روښانه او با ثباته راتلونکي لپاره له نوي سره مثبت ګامونه پورته کړي: "مهمه خبره داده، چې که دوی په خپله تګلاره کې یو څه نرمي راولي او په مثبت ډول یو له بل سره وغږیږي او تولې اختلافي مسئلې په دوستانه فضا کې سره مطرح کړي، نو لرې نه ده چې سړې اړیکې پر دوستۍ بدلې شي. بل پلو که وګورو نو د قطر خبرې اتري، له ۲۰۱۴ کال وروسته له افغانستانه د بهر نیو ځواکونو وتل، امنیتي چارې افغان ځواکونو ته سپارل او نورې ډیرې داسې خبرې شته چې دواړه هیوادونه باید زړې کیسې شاته پریږدي او د دوستۍ نوی باب پرانیزي. داسمه ده، چې پخوا هم اړیکې چندانې ښې نه وې خو په دې وروستیو کې ډیرې خرابې شوي "افغان دولت او لویدیځ هیوادونه پاکستان د وسلوالو طالبانو تر تولو نږدې ملاتړی هیواد ګڼي او وایي، چې د افغانستان د دولت وسلوال مخالفین تر ډیره د اسلام اباد له لوري حمایه کیږي. خو په دې وروستیو کې د طالبانو او متحدو ایالاتو ترمنځ نیغ په نیغه اړیکې ښیي، چې د دې ډلې مهم مشران اوس د پاکستان له واکه وتلي. بلخوا داسې راپورونه هم خپاره شوي، چې افغان دولت د پاکستان په مرسته له ځینې هغو طالبانو سره چې لا هم له پاکستان سره ښې اړیکې لري د سعودي عربستان په منځګړتوب د نویو خبرو پیلولو هڅې پیل کړي.

کډای شي تر وخت مخکې د...

برخه لري، فشارونه زیات کړي، چې له وخته مخکې خپل ځواکونه بهر ته خپلو هیوادونو ته ستانه کړي. خود بریتانیا صدراعظم ډیویډ کامرون په لندن کې له افغان ولسشمر سره له خبرو وروسته د تیرې شنبې په ورځ وویل، چې له افغانستانه د ځواکونو ایستل باید د دې هیواد په امنیتي وضعیت پورې تړلي وي او زیاته یې کړه چې زمور د عسکرو تل د دې هیواد په مختلفو سیمو کې افغان امنیتي ځواکونو ته د مسوولیتونو په سپارولو پورې تړلی دی او د ناټو تول غړي باید دغه اصل په پام کې ونیسي. دایتالیا د دفاع وزیر ویلي، چې هیواد یې له افغانستانه د عسکرو دایستلو په برخه کې په خپلو کړیو ژمنو ولاړ دی. جرمني هم ویلي، چې له هغه پلان سره موافق دی، چې له مخې یې د ۲۰۱۴ کال تر پایه د افغانستان د امنیتي چارو مسوولیت په بشپړه توګه افغان امنیتي ځواکونو ته سپارل کېږي. د فرانسې د ولسمشر وروستی وړاندیز ته پام سره د ناټو یوې ویاند اوانا لنګیسکو هم په دې تینګار وکړ، چې په افغانستان کې د انتقال پروسه به له مخکښې توافق سره سم تر ۲۰۱۴ کال پورې بشپړه شي. هغې وویل، ناټو به د شیکاګو په سرمشریزه کې چې په مې میاشت کې جوړیږي، د انتقال د بلې پړاو په اړه بحث او خبرې وکړي. ویل کېږي، په دې سرمشریزه کې به د ډېر تمرکز پر دې مسئلې وي، چې له ۲۰۱۴ کال وروسته په څه ډول د افغان امنیتي ځواکونو لګښتونه تامین شي. د افغانستان د امنیتي ځواکونو، پولیسو او اردو د شاوخوا درې سوه زره کسیز ځواک د کال لګښتونه له پنځونه تر شپږ میلیارډ ډالرو اټکل شوی، چې د کارپوهانو په وینا نه یې د افغانستان دولت د تامین وس لري او نه هم امریکا او اروپایي هیوادونه دې ته زړه ښه کوي، چې دغه لګښتونه تامین کړي.

افغان حکومت او طالبانو...

چې په سعودي عربستان کې خبرې وکړي. طالبانو تر اوسه پورې په دې اړه څه نه دي ویلي. خود افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ویندوی په دې اړه د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: «بې له شکه مور د سولې لور ته د هر ګام ملاتړ کوو.» ده په دې برخه کې له نورو ځه وبلو ډډه وکړه. خود افغانستان د حکومت یوه جګپوړي چارواکي، چې نه یې غوښتل نوم یې واخیستل شي، فرانس پریس خبري اژانس ته وویل: «له یو کال راهیسې مور په افغانستان کې له طالبانو سره د تماسونو په شمول د سولې لپاره ټولې لارې لټوو چې دا لارې په قطر پورې نه رالنډیږي.» دغه افغان چارواکي د بي بي سي راپور تایید کړ خو په دې باب یې بې خبري څرګنده کړه چې له طالبانو سره به کله په سعودي عربستان کې خبرې پیل شي. د طالبانو د کوټې د قیادي شورا یوه غړي هم د موضوع تایید کړه، ویې ویل: «دا نظر چې طالبان باید په سعودي عربستان کې د تماس لپاره یو ادرس ولري د پاکستان او افغانستان د حکومتونو له لوري وړاندیز شو.»

ولسي جرګې له یو شمېر وزیرانو...

بودیجه د روان کال د بودیجې له اجمالي حساب سره ملي شورا ته وړاندې کوي. خو تر اوسه د نوي کال بودیجه هم ملي شورا ته نه ده لېږل شوې. عثماني داهم وویل، چې تېر کال په بودیجه کې له شاملو پروژو څخه پر دوه سوه پروژو هېڅ پانګونه نه ده شوې. ده وویل، چې په دې اړه جزئیات به هم د چهارشنبې ورځې په غونډه کې وړاندې کړي.

د دغه راپور تر اور ېدو وروسته د ولسي جرګې د ګڼ شمېر غړو غوسه راوپارېده او ډېرو یې په دې ټینګار کاوه، چې د دوی په وینا، ناکاره او هغه وزیران دې سلب اعتماد شي، چې د خپلو بودیجو نیمایي یې هم نه ده لګولې. په ولسي جرګه کې د دایکنډي استازي اسدالله سعادتي یو له دغو وکیلانو څخه و او زیاته یې کړه، چې یاد شوي وزیران باید تر سلب اعتماد وروسته عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي، تر څو د قانون په چوکاټ کې خپله سزا وویني. په ولسي جرګه کې د هرات استازي منورشاه بهادري هم یادو وکیلانو ته ورته څرګندونې وکړې او زیاته یې کړه، چې په بودیجه کې د تداخل په اړه باید د مالیې وزیر هم استیضاح شي او ولسي جرګې ته ځواب ورکړي، چې ولې یې د قانون خلاف په بودیجه کې مداخله کړې ده. هغه مو وکړه، چې په دې اړه د مالیې وزارت له چارواکو سره خبرې وکړو، خو اړیکه ورسره ټینګه نه شوه. بهادري هغو دوه سوه پروژو ته، چې پانګونې پرې نه دې شوې، په اشارې سره زیاته کړه: ((کومو وزیرانو چې د غه پروژې پرې اېښې دي، ولسي جرګه باید هغوی په غیاب کې سلب اعتماد کړي؛ ځکه دغه کار پلمو او تشریحاتو ته اړتیا نه لري.)) په ولسي جرګه کې د فاریاب استازي بشیراحمد تینګ د یادو وکیلانو خبرو په تایید وویل، چې د لګول شوې بودیجې د لګېدو د څرګندوالي په اړه هم باید پلټنې وشي، تر څو معلومه شي، چې بودیجه په وړ ځای کې لګېدلې او که څنګه؟

د دې وایي، هغه وزیران باید تقدیر شي، چې بودیجه یې پر خپل وخت په مناسب ځای کې لګولې وي او پاتې نور باید عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي. په دې اړه تر دې پرو بحثونو وروسته د ولسي جرګې رییس عبدالرووف ابراهیمي وویل، چې د اړوندې موضوع د ښه وضاحت په موخه باید د مالیې وزیر ډاکټر عمر زاخېلوال او د تفتیش او کنټرول د اداري چارواکي د چهارشنبې په ورځ د جرګې عمومي غونډې ته راوغوښتل شي. د ابراهیمي د غه نظر د ولسي جرګې د غړو له لوري هم تایید شو. د یادونې ده، چې د مالیې وزارت د شاوخوا دوو اونیو مخکې معلوماتو له مخې، سږ کال هم تر اوسه په منځنۍ ډول د پراختیایي بودیجې ۳۳ سلنه لګول شوې ده.

حدود یکهزار کارت ورثۀ شهدا و ...

فامیلای شهدا و معلولین را، کسانی می گیرن که وابسته های شان به مرگ طبیعی فوت کدن". وی علاوه کرد که این افراد، زورمند هستند و با استفاده از زور و واسطۀ شان، برای خود کارت گرفته و از ریاست کار و امور اجتماعی، سالانه پول می گیرند. محمد، نام های این افراد زورمند را یاد نکرده و افزود: "یک تعداد زورمندان، تا پنجاه کارت هم دارن". یکتن از ورثۀ شهدا و معلولین در شهر سرپل که نخواست نامش گرفته شود، گفت: "پدرم در جهاد کشته شده؛ اما تا حالی کدام کارت بری مه داده نشده". وی همچنان افزود که یکتعداد افراد زورمند، به نام وارثان شهدا و معلولان، سالانه از ریاست کار و امور اجتماعی، امتیاز می گیرند.

با اینحال منیژه سادات قاضی زاده رییس کار و امور اجتماعی سرپل، گفت: کسانی که برای گرفتن امتیاز به این ریاست می آیند، کتابچه در اختیار داشته و به همان نام وثیقۀ شرعی هم دارند.

خانم قاضی زاده، استفاده از کارت شهدا و معلولین را توسط یکتعداد از زورمندان تایید کرد و گفت که بعد از تحقیقات؛ ۵۵۰ کارت را که در اختیار زورمندان بود، باطل کرده اند.

وی افزود که این کارت ها بعد از طی مراحل، به نام افراد مستحق ثبت شده است.

وی به صورت احتمالی گفته های مردم و والی این ولایت را تایید نموده گفت که ممکن است، برخی اشخاص تا حدود ۵۰۰ کتابچه را به نام های مختلف ثبت کرده، نزد خود داشته باشند؛ ولی آنها تلاش دارند، تا این مشکل را حل نمایند.

به گفتۀ مقام‌های محلی سرپل، درحال حاضر ۱۱هزار تن، نزد ریاست کار و امور اجتماعی این ولایت، ثبت و راجستر می باشند که فامیل های شان از امتیاز شهدا و معلولان مستفید می شوند.

اراده با جوانان وعلاقه مندان

همکار ارجمند محترم فیصل شریفی، ایمیل های شما به اداره مواصلت نموده است با ابراز امتنان از همکاری های دوامدار شما اینک بخشی از مضمون ارسالی شما را که تحت عنوان "صلح نیاز مبرم مردم افغانستان است" تحریر نموده بودید به چاپ میرسانیم، کامگار و موفق باشید.

صلح نیاز مبرم مردم افغانستان است!

مردم افغانستان با گذشتاندن سه دهه جنگ های داخلی صبروحوصله شان به سررسیده و ازاین پس تحمل جنگ ونا امنی را درکشورندارند چنانچه ما شاهد حملات انتحاری وانفجاری درگوشه وکنارکشورهستیم که این عمل زشت و وحشیانه تروریستان باعث گردیده تا صدها تن افراد مظلوم وبی دفاع کشورما به شهادت برسند. دراین توطئه ها واعمال نا پسند دهشت افگنان که همواره به دستورآی اس آی پاکستان پلان وطرح ریزی شده و توسط افراد فروخته شده اجیر به منصۀ اجراً قرارداده میشود. تروریستان سنگ دل از کاربرد هیچ نوع ابزاری درطی بیشترازده سال درمقابل ملت افغانستان دریغ ننمودند. مانند ترور افراد برجسته وشخصیت های مهم کارآی کشور، سربریدن افرادملکی، تیزاب پاشی برصورت معصوم متعلمین، حملات انتحاری وماین گذاری دراماکن مقدس و... ازجمله جنایاتی است که مردم افغانستان آنرا متحمل گردیدند و این پدیده زشت وغیرانسانی را دین مقدس اسلام به شدت ترین نوع تقبیح نموده و مورد منع قرارداده است. درضمن ازنظر علمای دین کسی که یک انسان را به ناحق به قتل میرساند، همانند اینست که خون تمام بندگان خداوند(ج) را ریختانده باشد.

پس دین مقدس اسلام، دین اخوت، برداری، انس ومحبت می باشد و مردم افغانستان ازروند صلح که ضرور پنداشته می شود و درهرجا صلح وآرامش نیازمبرم مردم بوده وملت افغانستان ازصلح وآسایش سرتاسری درکشورحمایت وپشتیبانی می نمایند.

خواست مردم افغانستان از مخالفان اینست که دیگرفریب وگول کشورهای همسایه (آی اس آی) را نخورده و به شورای عالی صلح یکجا شوند تا ازاین پس کشورهای متخاصم پلان های شوم وخصمانۀ را که علیه دولت وملت افغانستان به راه می اندازند دست پیدا نکرده و نیروهای امنیتی کشورکه مدافع خاک، وطن ومنافع علیای کشورهستند متعهد با مات افغانستان درمبارزه قاطع علیه دشمنان افغانستان قراردارند، دیگرنخواهند گذاشت که آنان به مقاصد شوم وتخریبکارانه شان نایل آیند.

همکار ارجمند روزنامه محترم مرتضی "جواد"، بعد از مدت طولانی ایمیل شما به اداره رسید امید است به لباس عافیت ملبس بوده باشید. به ارزوی همکاری های بعدی تان قسمتی از مضمون ارسالی تانرا به چاپ میرسانیم، موفقیت برایتان تمنا می نماییم.

رییس جمهور ایالات متحده امریکا در سخنان اخیر خویش اظهار داشته است که توانایی های طالبان به پایان رسیده و آنها ضعیف شده اند، ما نیز در کل به این باور هستیم که اگر با شدت و قوت با شورشیان و تروریستان برخورد نماییم آنها چندان نیرویی ندارند، این کار بعد از شکست رژیم طالبان برهمگان روشن گردید که در آن زمان طالبان از افغانستان به همان زودی که به اریکه قدرت رسیده بودند، در چند روز دو باره از افغانستان رخت بسته و به پناهگاه های شان (پاکستان) متواری شدند.

اگر جامعه جهانی در رأس ایالات متحده امریکا که بیشترین نیروی نظامی را در افغانستان دارد ، به منظور محو و برچیدن قدرت و توانایی آنها (تروریستان) با حملات گسترده و پیهم بالای شان در مناطق مختلف و در بیرون از افغانستان لانه های اصلی شان را مورد آماج قرار دهد و از جانبی دیگر با وارد نمودن فشار بر حلقات نظامی و استخباراتی پاکستان آنها را وا دارند تا صادقانه در امر مبارزه با تروریزم گام بردارند، طبعاً شکست طالبان حتمی میباشد.

چندی قبل ملیشه های پاکستانی در مناطق مربوط به ولسوالی ارغستان ولایت قندهار که مرز طولانی با پاکستان دارد، شورشیان و هراس افگنان را در آنجا تعلیمات نظامی می نمودند که این وضعیت در تقویه تروریزم ممد واقع میگردد.

آنچه تا حال گفته آمدیم با این همه جنایات که خلاف حسن همجواری پاکستان در قبال ما روا میدارد، جامعه جهانی قدم رنجه نموده و بالای لانه های اصلی تروریستان در داخل خاک پاکستان حملات گسترده را انجام دهد و در ضمن تمام کمک بالای کشور حامی تروریزم قطع گردد، با این دو گزینه میتوان تروریزم و به گفته رییس جمهور امریکا توانایی طالبان را تضعیف کرد در غیر این صورت تنها به سخن گفتن نمی توان جلوی شورشگری را گرفت در عمل باید اثبات گردد.

عربستان و افغانستان، قطر و امریکا

نویسنده: احسان الله وطندوست

تلاش های دولت افغانستان برای بارز و برجسته نگهداشتن نقش عربستان در روند صلح افغانستان از مدت ها به این سو ادامه دارد.

با انتشار گزارش هایی مبنی بر تمایل طالبان برای گشایش دفتری از سوی آنان در قطر، این امر با مخالفت سریع و صریح دولت افغانستان مواجه شد و مقام های افغان به سرعت و صراحت اعلام کردند که آنها می خواهند، این دفتر در یکی از دو کشور عربستان یا ترکیه ایجاد شود؛ اما این موضوع مورد توجه طالبان قرار نگرفت و آنها اعلام کردند که دولت افغانستان را فاقد صلاحیت لازم می دانند و طرف اصلی مذاکرهٔ آنان امریکا و جامعهٔ جهانی می باشد.

واکنش دولت افغانستان اما تنها به همینجا محدود نشد. وزارت خارجهٔ افغانستان به دنبال انتشار خبر گشایش دفتر قطر، سفیر این کشور را به علامت اعتراض از دوحه به کابل فراخواند؛ اگرچه این امر بعد از مدتی از سوی حکومت رد شد و اعلام گردید که این اقدام به منظور مشورت صورت گرفته و اساسا ماهیت اعتراضی نداشته است.

در همین حال، پس از مدتی، رییس جمهور کرزی، نیز، حمایتش از دفتر قطر را اعلام کرد و بدین ترتیب برای ناظران این نکته محرز شد که مرکز ثقل برگزاری مذاکرات، قطر خواهد بود نه ترکیه یا عربستان.

اما آنچه به نظر می رسد، هنوز هم حل نشده باقی مانده، موضوع حضور و حاشیه نشینی دولت افغانستان در مذاکراتی است که گفته می شود، تنها دو طرف امریکا و طالبان در آن شرکت خواهند داشت و افغانستان در آن هیچ نقشی ندارد.

مقام های حکومت افغانستان بارها تاکید کرده اند که هرگونه مذاکره یی باید تحت رهبری حکومت افغانستان انجام شود، در غیر آن، نمی تواند حامل نتایج مطلوبی باشد.

سفر اخیر مارک گروسمن به کابل و شماری از کشورهای منطقه نیز، برخلاف انتظار دولت افغانستان در زمینهٔ رهبری مذاکرات، حامل پیام تازه و امیدوارکننده یی برای دولتمردان افغانستان در زمینه واگذاری رهبری مذاکره به آنان نبود.

اکنون گفته می شود، رییس جمهور کرزی قصد دارد، پیش از شروع رسمی مذاکرات قطر، با طالبان در عربستان دیدار و مذاکره کند. اینکه چرا دولت افغانستان ترجیح می دهد، این امر در عربستان اتفاق بیفتد، به درستی روشن نیست؛ اما یک مقام افغان گفته است که حتا اگر دفتر قطر هم گشایش یابد، آنها تلاش های صلح را به همکاری کشورهای منطقه از جمله عربستان و ترکیه ادامه خواهند داد.

وی تاکید کرده که عربستان در گذشته نیز، دارای نقش پررنگی در قضایای افغانستان بوده و دولت افغانستان انتظار دارد، در این مقطع نیز، عربستان به ایفای نقش موثر خود ادامه دهد.

پرسش این است که چرا افغانستان به عربستان تا این اندازه اهمیت می دهد؟ عربستان در کنار پاکستان، امارات متحدهٔ عربی، یکی از معدود کشورهای همسو با طالبان در زمان حاکمیت این گروه بود. حمایت های این کشور از جریان های تندرو مستقر در افغانستان، یکی از عوامل نفوذی این کشور در افغانستان محسوب می شود.

البته آنچه در اشارات مقام های افغان نسبت به نقش موثر عربستان عنوان می شود، به معنای تاکید بر نقش منفی دولتمردان سعودی در ماجراهای سال های اخیر نیست؛ اما واقعیت این است که کشوری که در قضایای جنگ و صلح افغانستان، دارای نقش منفی نبوده باشد و در بی ثباتی های داخلی افغانستان نقش منفی نداشته باشد، می تواند در ایجاد ثبات و تامین صلح، نقش مثبتی ایفا کند.

از سوی دیگر، عربستان با قطر بر سر ایفای نقش یک ابرقدرت عربی در منطقه، در یک رقابت تنگاتنگ قرار دارد؛ رقابتی که می رود، تا به یک خصومت براندازانه تبدیل شود. در این مورد نیز، مقام های سعودی با استفاده از نفوذ مذهبی خود بر دولتمردان افغانستان، دست به دامن کرزی شده اند، تا امتیاز میزبانی از مذاکرات را به عربستان واگذار کند و از نقش فزایندهٔ قطر در این بازی ها بکاهد؛ اما به نظر می رسد، امریکا عمیقا مایل به برجسته سازی جایگاه قطر در منطقهٔ شرق میانه و افغانستان است. گروسمن نیز، در سفر اخیرش به کابل، تاکید کرد که دولت افغانستان باید با مقام های قطر از نزدیک در ارتباط باشد. بنابراین، تلاش های یکجانبه کرزی و تیم او برای برآورده سازی نیاز عربستان، هنوز به نتیجه یی نرسیده است.

حدود یکهزار کارت ورثهٔ شهدا و معلولان سرپل به زورمندان توزیع شده است

یکتعداد افراد زورمند و برخی مقام های دولتی، کارت های امتیازات شهداء و معلولین را با نام های جعلی وثیقه کرده و پول آنرا دریافت می کنند.

این مطلب را سید انور رحمتی والی سرپل، به رسانه ها بیان کرده گفت: "متاسفانه یک روند شفاف در توزیع کارت ورثهٔ این افراد وجود ندارد".

وی افزود که ثبت و راجستر خانواده های شهدا و معلولان، از آغاز در ولایت سرپل با دستکاری، تقلب، ارائهٔ اسناد غلط صورت گرفته و تا حال این مشکل باقی است.

رحمتی افزود که سه سال پیش، یک هیأت حقیقت یاب برای حل این مشکل به سرپل آمده بود؛ اما متاسفانه آنها هم نتوانستند، به دلیل برخی مشکلات، این موضوع را به صورت روشن و دقیق حقیقت یابی کنند.

بربنیاد معلومات والی سرپل، حین توزیع کارت های ورثهٔ شهدا و معلولان، در حدود یکهزار کارت برای زورمندان توزیع شده و این افراد با استفاده از زورشان، وثیقهٔ رسمی ساخته و این کارت را راجستر نموده اند.

منبع در حالی که از شخصی نام نبرد؛ اما اظهار داشت که منابع و مراجع مختلف، این کارت ها را تایید نموده و وثیقه یی هم به دست دارند؛ درحال حاضر هیچ کس نمی تواند، خلاف آنرا ثابت نماید.

وی با اظهار اینکه این روند، زیر چتر قانون انجام گرفته؛ یادآور شد که تلاش دارند، تا با یک سروی عمومی و دقیق، این مشکل را حل کنند و متخلفان را شناسایی نمایند.

طبق اظهارات موصوف، یگانه راه جلوگیری از این استفاده جویی ها؛ تعیین یک هیأت حقیقت یاب و فرصت کافی برای آنها، صدور کارت مجدد برای وارثان حقیقی و توزیع امتیازات از طریق بانک برای آنها می باشد.

رحمتی گفت که قبلاً امتیازات ورثهٔ شهدا و معلولان کم بوده، اما در حال حاضر برای هر کارت، سالانه ۲۱۵۰۰ افغانی توزیع می گردد.

برخی باشنده گان سرپل، ضمن تایید این مشکل می گویند که یکتعداد زورمندان، وابستگان شان را که مرگ عادی داشته اند، شامل لست شهدا نموده و از امتیازات آن استفاده می کنند.

محمد، یک باشندهٔ شهر سرپل به پژواک گفت: "امتیاز ص۳



معیار های بین المللی حقوق بشر برای تطبیق قوانین
وضعیت های اضطراری: هیچ کسی مجبور به پرداخت جریمه اضافه از آنچه در هنگام ارتکاب جرم ضروری بود، نمی گردد.
این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې دسرلیکې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه پې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com
معاون: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Farhat yar
Editor: Khadem Ahmad
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com